مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوالان: ډاکټر محمد حسین پاپلي یزدي
او ډاکټر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۱/۱۲/۱۹

# لویه تلوسه

اتلسمه برخه

## د اوبو بین المللی قوانین

**دوهمه برخه**

**دویم فصل**

**مقصدونه(موخی):** د مصرفوونکو په ګډون د اوبو د سرچینو د اداري له خوا په پایښتمنه او اغیزمنه بڼه. لنډه دا چې که چیرې مونږ غواړو د نفتو په ملاتړ پراختیا ومومو، افغانان غواړي د اوبو په ملاتړ پراختیا ترلاسه کړي. همدي امله اوبو په اړه ګاونډیانو په وړاندي ډېر حساس دي. هماغه شان چې زمونږ هیڅ مقام نشي کولای ګاونډیانو او پردیو سره د نفتو د زیرمو ورکولو او سپارلو په تړاو مذاکرو ته وارد شي. دا د افغانستان ملت حق دی چې وغواړي له خپلو زیرمو او شتمنیو سره پراختیا ومومي. پراختیا د هر هیواد حق دی؛ له دې ډلې د افغانستان حق . خو د هر هیواد د پراختیا د حق تر څنګ نوره حقونه هم شته. لدې ډلې د ګاونډیانو د اوبو برخه. نو اوس زمونږ دیپلماسی باید په کوم محور را وڅرخیږي څو افغانستان سره د اوبربرخه تنظیم کړي او خپل حق تثبیت او غښتلی کړي او افغانستان هم د ډاډ او اطمینان احساس وکړي او پراختیا هم ومومي. لیدل کیږي که د ایران دیپلماسي افغانستان سره یوازي د اوبو برخي پر سر راوڅرخیږي په کلونو کلونو به هم پایلی ته ونه رسیږي. د ایران دیپلماسی بایده ده د افغانستان د غښتلي پراختیا محور پر شاوخوا راوڅرخیږي.

**د ګډو اوبیزو حوضو غښتلي( ټیکاومنه) پراختیا**

که افغانان یوازې (پارلمان او دولت او د افغانستان چار پوهان او نخبه کسان) ډاډمن او قانع شي چې مونږ دوی سره د ګډو اوبیزو حوضو په پراختیا کې او د افغانستان په تولیزي پراختیا کې مشارکت کوو او د ملګرو ملتونو سازمان تر نظارت لاندې په ملي او بین المللي سطحو کې به د مشخصو موخو او اعتباراتو تضمین شوي اجرایي طرحي ولرو مذاکرې میز ترشا به راسره کښیني او د خپل هیواد د عمومي اذهانو ځواب ورکوونکی به هم وي. تر هغه وخته چې افغانستان څخه یوازې د اوبو برخي مطالبه وکړو او وغواړو چې د هریرود او هلمند په اوبیزو حوضو کې په پراختیا نقش ونلرو نو باید تر مودو مودو (کم له کمه درې کاله) د صبر و انتظار او د بابیزه مذاکرو سیاست ولرو او یا سلبي سیاستونو لارې څخه کار واخلو چې په پای کې به کومه نتیجه ترلاسه نکړو.
هوکړې ته رسیدو لار او افغانستان څخه اوبربرخې ترلاسه کول، سیمه ییزې غښتلي پراختیا طرحه او پلان درلودل غواړي. البته ملګرو ملتونو سازمان او نور بین المللي سازمانونه لدې ډلې یونیپ UNEP او فائوFAO او د افغانستان دولت او ملت هم پوهیږي چې هلمند او هریرود حوضې د ایران او افغانستان د ګډو تمدني حوزو برخي دي. څو زر کلن تمدن چې د دغو دوو سیندونو په شاوخوا راټوکېدلي او جوله پې پیدا کړې دی. هغه تمدن چې په هیرمند کې دوه هیوادونه او په هریرود کې درې هیوادونه افغانستان، ایران او ترکمنستان په هغه کې ونډه لري.
افغانان یو متل لري چې وایي:
د اوبو په سر( پاسنیو اوبو) کې نوکرتوب په کوزنیو اوبو کې له پاچاهیتوبه بهتره دی. خو افغانان پدې پوهیږي چې په ټوله ودانه او پراختیا ته رسیدلي حوضه کې پاچاهیتوب (برلاسی)چې وګړي پې سالم او سوکاله ژوند لري له هغه اوبو سر کې له نوکروالي بهتره دي چې خلک پې په خپته وږي په ناروغي اخته او ملک پې هم شاړ وشنډ وي.

| |
|---|
| **افغانستان، ایران او ترکمنستان سره یوې غښتلي او تثبیت شوې اوبو برخې(حقابه) یوه عادلانه ترون ته رسیدلو لپاره، د هریرود حوضې د سیمه ییزې ټیکاومنی او غښتلي پراختیا مخکښان شو.** |

**د هلمند سیند(رود)**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د هلمند په اړه د اوږدو خبرو اترو مخینه او هغه پایلې چې دا مهال زمونږ مخې ته پرتې دي، د سیمه ییزې پراختیا د استدلال پخلی کوي پر دغې مخینې کلي او ډېره لنډه کتنه کیدای شي د دې کتاب وړاندیز ته لار پرانیستونکي وي.

**د هلمند د اوبو پر سر د خبرو اترو مخینه**

۱۸۵۷ ( ۱۲۸۳ ه) : له ۱۸۵۷ کال رادیخوا چې ایران د پاریس د تړون (قرارداد) له مخې، افغانستان په رسمیت وپېژاند، د هلمند د اوبو پر سر د دواړو هیوادونو ترمنځ د نظر اختلاف موجود دی. د تړون د ۶ بند له مخې لوریو منلې وه د اختلاف رامنځ ته کیدو په صورت کې د انګلیس حکمیت ومني.

۳ – ۱۸۷۲ د ګلدسمیټ حکمیت: افغانستان او ایران له انګلیس وغوښتل چې پدې اړه دریم ګړتوب وکړي (حکمیت په غاړه واخلي). انګلیس دولت جنرال ګلډسمیټ د دې کار رسیدګی لپاره وګماره. جنرال اسمیټ هلمند اوبو څخه ګټې اخیستو په اړه د خپل حکمیت (ورمندون) په پای کې لاندې عبارت یاد کړ « پر دې مسئلی سربیره باید ډېره ښکاره وي چې هغه ډول اقدامات نباید د هیڅ لوري لخوا وشي چې مقصد یې د هلمند د سیندغاړې (کڅونه – ساحلي غاړه) اوبونې لپاره د لازمو اوبو د مخنیوی مداخله وي» لورو دغه حکمیت ومانه (۱۹).

۱۹ -( افشار سستانی ۱۳۶۹ ص ۳۷= احمدی ۱۳۷۸ ص ۳۸۰)

۱۸۹۶ : یوه لوی سیلاب، هلمند په یوه برخه کې له خپل مسیره منحرف کړ چې سیستان یې د اوبو له کمښت سره مخامخ کړ. د ایران دولت د انګلیس بهرنیو چارو وزارت څخه وغوښتل چې مسئلی ته رسیدګی وکړي . انګلیس دولت جنرال مکماهان سیمې ته راولیږه. خو ایران د دی جنرال نظرېې ونه منلې ځکه چې جنرال د ایران د اوبو برخه له دریو یوی ( برخی ) ته راښکته کړې وه.

۱۹۳۹ (۱۳۱۸) په کابل کې، د کابل قرارداد په نوم یو تړون لاسلیک شو چې د هغه له مخې کمال خان بند څخه د هلمند اوبه نیم په نیم (۵۰٪۵۰٪) وویشل شي.د قرارداد ۲ بند له مخې د افغانستان دولت ومنل چې چهاربرجک کلیو څخه تر کمال خان بند پورې نوی ویالې (نهرونه- کانالونه) احداث نکړي ځکه چې دغه کار په ایران کې د اوبو د کمیدو لامل ګرځېده. د تړون د ۸ بند له مخې خواو ژمنه وکړه چې له هر هغه اقدام څخه چې په بل لوري کې د اوبو د کمېدو لامل شی ډډه وکړي. دغه تړون او د هغه د ملیاتې اعلامول د افغانستان د مجلس له خوا و نه منل شوې. او تصویب نشو. په افغانستان کې په هلمند سیند باندی د بغرا او سراج نهرونو کېندنې په ستونځو کې زیاتوالی رامنځ ته کړ.

۱۹۴۱ (۱۳۲۰): د افغانستان دولت پریکړه وکړه د کجکي بند احداث کړي .

۱۹۴۷ (۱۳۲۶): د چیلي،آمریکا او کاناډا هیوادونو د ماهرینو په ګډون د دلتا کمیسون تشکیل شو. د کمیسون د نظر له مخې چې په ۱۳۵۰ کال کې خپور شو ایران د سیستان د مصرفي اوبو په اړه د نورو مصارفو په نسبت چې له ۱۳۵۰ کال څخه وروسته رامنځ ته شي د تقدم حق لري. دغه کار هم شرعی قوانینو او <u>غیر ته اضرارو نظرېې</u> سره سمون لري. د ایران دولت په دې دلیل چې کمیسون د افغانستان له ۱۹۵۰ کال څخه پر مخکې اقداماتو سترګې پټولې د کمیسون رایه و نه منله. سربیره پردې کمیسون ایران ته د اوبو کمه سلنه ځانګړې کړې وه. ایران اعلام وکړ حاضر دی افغانستان دولت سره نیغ په نیغ او پرته له منځګړې مذاکره وکړي..

۱۹۵۰ تر ۱۹۷۰ کال پورې دوو لوریو ځو ځلې مذاکرې وکړې او کومې نتیجې ته ونرسېدل.

۱۹۶۶(۱۳۴۵)- کجکي بند په رسمي توګه ګټې ته وسپارل شو. دا بند کابو د ۱،۲ ملیاردو په ظرفیت د اوبو او برېښنا تامینولو لپاره احداث شو، د هلمند اوبو یوه برخه یې واخیستې او د ایران سیستان خلک تر فشار لاندې راغلل.

(۲۰ـ کجکی بند د افغانستان په هلمند ولایت کې د اوبیزې بریښنا له دوو اصلی بندونو یو مهم بند دی دغه بند هلمند سیند باندی تړل شوی او د کندهار ښار شمال لویدیز ۱۶۱ کیلو متری کې واقع دی.د دغه بند کارکړنه د ۱۸۰۰ کیلو متر مربع وچې ځمکې اوبونه او هم د بریښنا تولیدول دي ۱۰۰ متر لوړوالی لری ۲۲۹۰ متره پلن دی او کلنې توګه د ۱،۲ کیلو متر مکعبه تشولو ظرفیت لري )

۱۹۷۲ (۱۳۵۱): بالاخره د هویدا او د موسی شفیق د صدارت پر مهال د ایران او افغانستان دولتونو قرارداد لاسلیک کړ. وټاکل شوه چې په هره ثانیه کې د هلمند ۲۶ متر مکعبه اوبه چې په کلنې توګه د ۸۲۰ ملیون مترمکعب اوبو معادل کیږي ایران خاوری ته واردې شي. یانې د هلمند د کلنیو تولو توپیدونکو اوبو(د کلني تول بهیر) څه کم ۱۰-٪ . دغه معاهده افغانستان له لوری د ۱۳۵۲ کال په جوزا کې بشپړ تصویب شوه ( ۲۱ )

۲۱ - د ایران او افغانستان ترمنځ د هلمند پولیز رود د اوبو په اړه معاهده ۱۳۵۱-۱۳۷۳: دریمه ماده: الف ـ د اوبو د نورمال کال د میاشتو په موده کې یا د اوبو له نورمال حالته اوچت کال کې، هلمند رود څخه ټاکلی مقدار اوبه، چې د دغې معاهدې په دویمه ماده کې تشریح او ټاکل شوې، ځلورم ستون سره سم د هلمند سیند له بستر څخه افغانستان له خوا ایران ته سپارل کیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| میاشت | په ثانیه کی د اوبو د متر مکعب بهیر منځني ( اوسط) تقسیمات په ثانیه کي د هلمند ددلتاکمیسیون د۲۲متر مکعب پر اساس | په ثانیه کي د متر مکعب اوبو بهیر منځني( اوسط) تقسیمات په ثانیه کي د ۴ متر مکعب په اساس« بنه نیت » | په ثانیه کي د مترمکعب د اوبو بهیر منځني (اوسط)تقسیمات د دغه جدول د دواړو ۲ او ۳ کالمونو په اساس یاني ثانیه کي ۲۶ متر مکعب |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ |
| اکتوبر | ۴/ ۲۳ | ۰/ ۷۷ | ۵/۰۰ تله او لړم |
| نوامبر | ۱۰/ ۷۵ | ۱/ ۹۷ | ۱۲/ ۷۲ لړم او لیندی |
| ډسمبر | ۱۹/ ۴۸ | ۳/ ۵۶ | ۲۳/ ۰۴ لیندی او مرغومی |
| جنوری | ۲۹/ ۳۵ | ۵/ ۳۲ | ۳۴/ ۶۷ مرغومی او سلواغه |
| فبروری | ۶۶/ ۱۲ | ۱۲/ ۰۴ | ۱۶ /۷۸ سلواغه او کب |
| مارچ | ۶۱/ ۹۰ | ۱۱/ ۲۳ | ۱۳ /۷۳ کب او وری |
| اپریل | ۲۶/ ۳۰ | ۴/ ۸۱ | ۱۱ /۳۱ وری او غوایی |
| می | ۷/۶۲ | ۱/ ۳۹ | ۹/ ۰۳ غوایی او غبرګولی |
| جون | ۱۶/ ۷۱ | ۳/ ۰۲ | ۱۹/ ۷۳ غبرګولی او چنګاښ |
| جولای | ۱۱/ ۶۱ | ۲/ ۱۱ | ۱۳/ ۷۲ چنګاښ او زمری |
| اګسټ | ۷/ ۹۳ | ۱/ ۴۴ | ۹/ ۳۷ زمری او وږی |
| سپټمبر | ۱/ ۶۸ | ۰/ ۳۴ | ۲/ ۳۲ وږی او تله |

له هغې نېټي راهیسي د پراخو وچکالیو او په افغانستان کي د ننه د اوبو لګښت د زیاتوالي له امله د ایران سیستان په کراتو کراتو له لویو وچکالیو سره مخامخ شوی دی.، د هامون سمندرګی او نور سمندرګي وچ شوي دي. په لسګونو زره کسان له سیستان څخه کوچیدلي دي. په سلګونو کلي او ویالی تر ریګو لاندي دفن شوي دي.
په دې موده کې ایران دولت د زاهدان د ښار د څښاک اوبه د زابل ښار د څښاک اوبو تامینولو او د کرنې اوبو د لګښت تامینولو لپاره هلي ځلي کړي دي. نیمه ځاګاني چي په طبیعي بڼه یې شتون درلوده رغولي دي. د نیمه ځاګانو رغونه(تنظیم) یاني مونږ په عملي توګه خپله اوبه برخه په یو ځای کي زیرمه کړو څو له خپلو اوبو برخي په ښه توګه کار واخلو. نتیجه داچي له ۱۸۵۷ کال څخه تر ۲۰۱۱ پورې یاني یوسلو پنځوس کلونو څخه په زیاته موده کي ایران او افغانستان د هلمند پر سر بحث، خبری اترې او مذاکرې ،ګواښنه او تطمیع کړي دي. هغه څه چي نتیجي ته رسیدلي دي د ۱۳۵۱ کال قرارداد دی چي د ایران د اوبو برخه یې، په رسمي توګه په یوه ثانیه کي ۲۶ مترمکعب ، یاني د هلمند اوبو له لس سلني یو څه لږه ټاکلي ده. البته په سیلابی وختونو کي پدې دلیل چي د افغانستان دولت د سیلابونو د بشپړ کنټرول امکان( وس او توان) نه نلري، خو په نورمال او د وچکالیو په وضعیت کي داسي کلونه وو چي له ۲۶ مترمکعب کمي اوبه ایران ته را رسیدلي دي. د کمال خان د بند په جوړولو او د افغانستان خاوره کی د ننه هامونو پر لور د اوبو په ګرځولو (منحرفولو)سره به په ایران کي د اوبو کمښت او وچکالي شدت وموومي. دا مسئله سبب شوی ده ځیني وختونه توندلاري هغه خبری او ټکي ولیکي چي د دواړو هیوادونو د ښه ګاونډیتوب اړیکي وګواښي.
د دغو ټولو مذاکرو پایله د اوبو لړوالی او د هامون وچیدل دي. پایله داچي د ایران او افغانستان دولتونو مخي ته یو اکولوجیکي ناورین او یو لوی اقتصادی او ټولنیز مشکل پروت دی. د پولي دواړو خواو ته کومه پراختیا نه لیدل کیږي.

| |
|---|
| **آیا هغه وخت نده رسیدلای چي مونږ او افغانستان دواړه خپل سیاستونه بدل کړو او د تشي او یوازي حقابی پر سر مذاکرو پر ځای د پولي په دواړو لوریو کي د سیمي د ګډي غښتلي پراختیا په اړه مذاکره وکړو؟** |

که مونږ تش د حقابي او د اوبو برخي په ترلاسه کولو ټینګار وکړو او یوازي وغواړو یو څه ترلاسه کړو او یوازي د ګټلو د سیاست لمن ونیسو پایله بې هغه بایله ده چي زمونږ مخي ته پرته ده : له سلو کالو مذاکرو وروسته یوازی د هلمند د اوبو لس سلنه. د سلو کلونو په مذاکرو کي مو د سیستان وچکالی، وچ شوَی هامون، مهاجرتونه او روان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ریګونه په برخه شوي دي. افغانان هم کله چي د خپلې ګټنې په سیاست سوچ وکړي او هڅې او هاند ېې دا وي چې مونږ ته لږه اوبه برخه راکړي همدغه څه به ېې په نصیب شي چې اوس ېې لري.

| |
|---|
| نو حللاره د کټل ـ کټل په یوه سیاست کې ده. دا سیاست د دوه اړخیزې پراختیا او د لوی سیستان سیمې د هلمند او ارغنداب درې او د هریرود حوضې په ګډې ټیکاومنې او پایښتمنې پراختیا کې (نغښتی )ده. |

د دې سیاست اصول باید په لاندې ډول وي:

۱) ـ بیخ بنایی یا بیخ جوړونکي اقدامات: دغه سیاست باید یو لړ بیخ بنایي بستر جوړونکی اقدامات ولري او د اوبه محوره او پراختیایي اقداماتو پر شاوخوا د پولې په دواړو خواو کې یو لړ اصلی کارونه ترسره شي.

۱ . ۱ . سیمه کې د لا زیاتی سولې او امنیت رامنځ ته کولو لپاره د لارو چارو او ترتیباتو پیدا کول. ( د پولې په اوږدو کې د سېمنټي دیوالونو ودرولو له لارې څوک سولې او امنیت ته نه رسیږي. په یوه داسې وخت کې چې د نړی په لویه برخه کې سیاسي پولې د ورانېدو په حال کې دې او د اروپا اتحادیې په څېر لویې اتحادیې رامنځ ته کېدو په حال کې دي مونږ نبایي چې په ملیارډونو تومانونه پر دې ولګوو چې د دوو هېوادونو ترمنځ کانکریټي دېوالونه جوړ کړو . وراندیز کوو چې د دې کتاب نظریه یاني سیمه ییزه غښتلې مشارکتي پراختیا د خپل کار مخې ته کیږدو ).

۲ . ۱ . د سیمې اقتصادي پراختیا او دآزادې سوداګرۍ لارې چارې او ترتیبات او د نړیوالو پانګو راجلبول.

۳ . ۱ . د ګمرکي تعرفي راتپتول او پولې ته څېرمه بازارګیو رامنځ ته کول او د موجودو بازارګیو ځواکمنول.

۴ . ۱ . د پولې څېرمه اوسیدونکو لپاره په پولې تېرېدو- تګ راتګ لپاره د ځانګړو پاسپورټونو صادرول.

۵ . ۱ . د بین المللی پانګو او د ملګرو ملتونو سازمان د مرستو راښکل او جلبول .

۶ . ۱ . فراه، شینډنډ او هرات پر لور د بیخ بناو غښتیا او ځواکمنول( د زاهدان زابل ترکندهاره اوسپنیزې پټلی،جادی، او د پاکستان د ریل لارو او د افغانستان دکورنیو شبکو سره نښلول ).

۷ . ۱ . په سیمه کې د عمومي زدکړو غځول او د بیسوادی د ولیو او ریښو له منځه وړل، د پوهنتونونو او علمی – تجربی عملي مرکزونوځواکمنول.

۸ . ۱ . د روغتیایی بیخبناو ځواکمول.

۹ . ۱ . د ارتباطي بیخبناو غښتیا او ځواکمنول.

۱۰ . ۱ . د طبیعي خسارو د راټیټولو د لارو چارو او ترتیباتو مېندل.( روان ریګونه، سیلاونه او...)

۱۱ . ۱ . په سیمه کې له بادي او لمریزې انرژۍ او نورو نوي کېدونکو انرژیو حد اکثر ګټه اخیستنه( د لمریزي، بادي ، د اوبو برېښنا او غیر فوسیلي انرژیو د تولیدی سټشنونو جوړول).

**۲ ـ د کرهنې په برخه کې اقتصادی بدلون رامنځ ته کول**

۱ . ۲ . د کرهنې د مالکیت په بیخبناو کې او د ارباب او کروندګر په اړیکو کې اساسیب بدلونونه( لکه افغانانو له خوا په هلمند کې د ځمکې اصلاحات).

۲ . ۲ . ښارونو ترمنځ لارو، کلیوالو لارو او کروندو ترمنځ د پولې په دواړو خواو کې د لارو غښتیا.

۳ . ۲ . د کرهنې میکانیزه کول( د تراکتور او د کرنیزو ماشین آلاتو د کاروني پراخونه).

۴ . ۲ . سټنډرډ په حد کې ځمکلاندي اوبو څخه د کار اخیستو څېړنه او دځمکلاندې اوبو د زیرمو کنټرول(په هلمند او ارغنداب کې).

۵ . ۲ . د کرهنې اوبو د لګښت او غوښتنې د راټیټولو لارو چارو مېندل.

۶ . ۲ . د پولې په دواړو خواو کې په سیمه کې د مناسبي کرکېلې د بیلګې خوښون.

۷ . ۲ . د اوبونې د موډرنو (اوبولګولو) ترتیباتو او لارو چارو پراختیا.

۸ . ۲ . نایلون لاندې او د ګلخونو د کرکېلې پراختیا.

۹ . ۲ . د کرنیزو مناسبو بوټو دانو (بذر) خوښون

۱۰ . ۲ د اړتیا وړ انبارونو، د سیلوګانو او سړو خونو جوړول.

۱۱ . ۲ د کرنیزو محصولاتو د سوداګریزو شبکو پراخول

۱۲ . ۲ . د کرهنیزو ضایعاتو راښکته کول.

**۳ ـ موډرنه مالداري ( دڅارویو موډرنه پالنه)**

۱ . ۳ . د سیمې دخلکو زدکړه

۲ . ۳ . د زدکړېزو جوړښتونو رامنځته ول

۳ . ۳ . د وترنري د مرکزونو جوړول

۴ . ۳ . د بهتره ډول او نسب( اصلح نژاد) انتخاب


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۵ .۳. د بومي ډولونو (نژاد) پیاوړی کول
۶. ۳ . د حیوانی موادو بدلوونکو صنایعو ایجادول ( د شیدو او لبنیاتو د تبدیلولو کارخوني – څرمنه(پوست)، کولمي، وړی او نور موارد)
۷ . ۳ د صنعتي مسلخونو جوړول.
۸ .۳ . غوښساتنی لپاره سړېخوني
۹ . ۳ . دحیواني تولیداتو صادرول(د اوبژویو پالنه)
۱۰ .۳. د مرغانو د فارمونو غځول او د فیل مرغانو پالنه
۱۱ . ۳ . د شاتو د مچیو او د وریښمو د چنجیو پالنه
**۴ ـ د کرنیزو محصولاتو تبدیلولو صنایع**
۱ .۴ . کرنیزو محصولاتو په برخه کې د تبدیلولو صنایع
۲ . ۴ . د بڼونو( باغونو) د محصولاتو په برخه کي د تبدیلولو صنایع( وچه میوه - خوږې او کنسرو شوي میوې او...)
۳ .۴ . د حیواناتو د خوړو چمتو کولو په برخه کي د تبدیلولو صنایع.
**۵ ـ هغه صنایعو پراخول چې لږې اوبه مصرفوي**

**شاید د پولي دواړو خواو کي له وچکالی او د اوبو له لږوالي څخه د سیمي ژغورلو ډېره مهمه لاره د سیمي صنعتي کول وي، هغه هم په هغو صنایعو کي چې لږې اوبه لګوي.**

**نور بیا**

**د هلمند اوبو بدایه ساتل(څواکمنول) او زیاتول**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ